مسلم د لوړو زده کړو مؤسسه

مالي او اداري معاونیت

د بشري سرچینو او اداري آمریت

- **د دندې پیژندنه (Job Identification)**

| | |
|---|---|
| **د دندې نوم** | **د تضمین کیفیت مدیریت** |
| **څانګه** | **اداري** |
| **کوډ** | MIHE-33 |
| **تعداد** | 2 |

- د دندې په اړه لنډ معلومات:

دغه دنده په پوهنتون کې د تضمین کیفیت له آمریت سره په کارونو کې د مرستې په پار را منځته شوې ده، تر څو تضمین کیفیت آمریت وکولای شي چې خپل کارونه په ښه ډول ترسره کړي.

- **دندې او مسؤولیتونه(Duties and Responsibilities)**

- د انفرادي او عملیاتي پلان ترتیبول.
- مافوق آمر ته د خپلو کړنو میاشتنی، ربعوار او کلنی راپور ورکول.
- په دنده کې اخلاقي او اداري اصولو ته درناوی.
- د تضمین کیفیت آمریت او یا هم کمېټې له لوري د دایرکیدونکو سمینارونو او ورکشاپونو لپاره د ځای او اړینو موادو چمتو کول.
- په وخت سره د تضمین کیفیت د اړونده کړنو د اسنادونو راټولول او چمتو کول.
- د درې ګونو معاونیتونو، تضمین کیفیت آمریت او تضمین کیفیت کمېټې د اړتیا وړ اسنادونه راټولول.
- د معاونیتونو ، تضمین کیفیت آمریت او تضمین کیفیت کمیټې د اسنادو لپاره د فایلینګ سیستم چمتو کول.
- د علمي معاونیت، تضمین کیفیت آمریت او تضمین کیفیت کمیټې د اړونده مکتوبونو صادرول او واردول او ساتنه.
- د ارزیابي په موخه د فورمونو او پوښتنپاڼو ترتیبول.
- د ارزیابي په موخه زده کړیالانو او کارکونکو ته د ارزیابي فورمې ویشل او راټولول.
- له ارزیابي وروسته د فورمونو او پوښتپاڼو ثبت کول په ډیټابیس سیستم کې.
- د مؤسسې په علمي ارزیابي کې له داخلي او خارجي هئیت سره مرسته او همکاري کول.
- د ستراتیژیک پلان کمیټې اړونده کړنې ترسره کول.
- د تضمین کیفیت اړوند نورې چارې چې د مافوق آمر له لوري ور سپارل کیږي.

- **د نورو سره اړیکې**
  - راپور اخیستل — نه لري
  - راپور ورکول — کیفیت لوړاوي آمریت ته.

- د وسایلو سره بلدیت: له کمپیوټر ،پرینټر،کافیبر، انټرنیټ او ځینو داسې نورو وسایلو سره بلدتیا چې د اړتیاپرمهال په کار کیږي.
- کاري شرایط( Working Condition): د دندو د لایحې مطابق د تضمین کیفیت مدیریت د لایحې اړوند او د تضمین کیفیت آمریت له هدایت سره سم په خپل وخت د کړنو اجرا او راپور چمتو کول.
- د دندې ځانګړنې (Job Specification)

| | |
|---|---|
| د زده کړو کچه: | لسانس |
| تجربه: | ۲ کلنه کاري تجربه |
| کمپیوټري پروګرامونه: | MS Office( word, Excel, power point), Database, Windows |
| ژبې: | د رسمي او ملي ژبو ترڅنګ له انګلیسي ژبې سره بلدتیا |
| جنس: | نارینه |